# د افغانستان په لویو ښارونو کې د هوا د ککړتیا عوامل او د هغوی حل لارې!

## لیکوال: ذبیح الله تنویر

هر هغه ماده چې د ژوندیو موجوداتو د ژوند لپاره مضره وي، په هوا کې يې موجودیت د هوا د ککړتیا په نوم یادیږي، د ژوند چاپیریال له دې بدې پدیدې څخه خوندي نه دی پاتې شوی او لا هم ګواښل کیږي، دا ښکاره ده چې د ژوندیو موجوداتو د پاینښت لپاره اکسیجن اړین عنصر دی کوم چې په د هوا په ترکیب کې شتون لري او د خپلو فزیالوژیکي دندو د ترسره کولو لپاره يې مصرفوي، چې د یاد عنصر په ککړیدو او تنفس کیدو سره بیا د فزیالوژیکي دندو د خنډ او ځنډ، د ژوندیو موجوداتو د ناروغتیا، اقلیمي بدلونونو، د ځمکې کرې د ګرمیدو او د چاپیریال د ککړیدو سبب کیږي.

د هوا ککړتیا د نړۍ د نورو هېوادونو تر څنګ افغانستان هم ځپلی او لا هم د دې هېواد ډیری لوی ښارونه دغه ستر ناورین ګالي، په لویو ښارونو کې د نفوسو زیاتوالی، د نا امنۍ له وجې له کلیوالي ساحو څخه ښارونو ته د مهاجرتونو ډیروالی، د نباتي پوښښ کموالی، د ځنګلونو او څړځایونو تخریب، د طبیعي سرچینو نه مدیریت، په هېواد کې د سرکونو خاموالی، د غیر معیاري تیلو استعمال، د زړو انجن لرونکو موټرونو چلښت، د چاپیریالي زیانونو په اړه د خلکو د پوهوي کموالی، د ډبرو سکرو او لرګیو ډیر استعمال، په ښارونو کې د شنو ساحو کموالی، د پلاستیکونو، سویو مبلایلو، ټیرونو او ډیزلو سوځول، د ښاریانو له لورې په لارو او کوڅو کې د کثافاتو غورځول، په ښاري سیمو کې د صنعتي فابریکو او فعالیتونو ډیروالی، د بریښنا د کمښت له وجې د زړو جنراتورونو زیات استعمال، د غیر ضروري توکو سوځیدل، د جنګي توکو چاودیدل، د جګړې شدت، د هېواد کمزوی اقتصادي حالت، په ولسونو کې د ملي احساس کموالی، په ښار کې د کثافاتو ځنډیدل، د چاپیریالي قوانینو نه راعیتول، په هوټلونو او سلمانیو کې د لرګیو ډیر استعمال، د ټیټ ماډل لرونکو موټرو ډیروالی، په ښارونو د لېږد رالېږد وسایلو ډیر تګ راتګ، په ښارونو کې د ساختماني چارو غېر معیاري ترسره کیدنه د هوا د ککړتیا انساني عوامل او شدید بادونه، زلزلې، په طبعیت کې د ځینو توکو خوسا کیدنه، اور لګیدنه او نور د هوا د ککړتیا طبیعي عوامل دي، خو په هېواد کې د عنعنوي کرنې شتون، د معیاري کرنې نه موجودیت، د نباتي پوښښ نشتوالی، د ځنګلونو، څړځایونو، طبیعي سرچینو نه مدیریت، شنو ساحو او نورو کرنیزو ځمکو تخریب او له منځه تګ د هوا د ککړتیا اساسي عوامل دي.

د هېواد په لویو ښارونو کې د هوا د ککړتیا د مخنیوي لپاره لازمه ده چې، په کرنه باندې زیات تمرکز وشي، تخریب شوي ځنګلونو او څړځایونه ورغول شي، لوڅې شوې خاورې او شاړې ځمکې په نباتاتو باندې

وپوښل شي، د طبيعي ځنګلونو د تخريب او قطع کولو مخه ونيول شي، خلپه ښار کې د استوګنې او سوداګرۍ ځايونو ترڅنګ د زينتي نيالګيو د کينولو په موخه کرنيزو ساحو ته اولويت ورکړل شي، ښار ته په نږدې تپو کې تراسونه جوړ شي، د مارکيټونو په خاوندانو بايد د مارکيټ د مخې ساحو زرغونول جبري شي، فابريکې او نور صنعتي فعاليتونه بايد د ښار له منځ څخه اطرافو ته انتقال او هلته ترسره شي، په ښارونو کې بايد ټول خام سرکونه په پاخه اواساسي ډول ورغول شي، په زړو انجن او ټيټ ماډل لرونکو موټرو باندې بايد ګرځبنديز ولګول شي، هېواد ته په وارد کيدونکو بې کفيته تيلو باندې بايد بنديز ولګول شي، د بريښنا د نورو ډولونو پرځای بايد ښاريانو ته د اوبو او يا باد بريښنا برابره شي، په ښار کې بايد د غير ضروري توکو په سون بنديز ولګول شي، ټول ښاري کثافات بايد راټول او له ښار څخه په لرې ساحه کې ښخ کړل شي، په هوټلونو او سلمانيو کې د لرګيو استعمال بايد نهايتآ راکم شي، ښاريان بايد د چاپيريالي ککړتياوو په زيانونو باندې پوه شي، په ښار کې هر ډول کثافات په خپل وخت راټول شي، د چاپيريالي قوانينو په نه عملي کيدو باندې ښاريان مجازات شي، د هېواد په لويو ښارونو کې بايد سرکونه ازاد شي، د هېواد شته طبيعي سرچينې بايد مديريت شي، د کورونو مخې ته بايد د کورنيو اضافي توکو د خوندي کولو په موخه کثافت دانۍ جوړې شي، په ښارونو کې د ترانسپورټ تنظيم ته ځانګړې پاملرنه وشي، په چاپيريالي قوانينو ښاريان پوه شي او په جدي ډول عملي شي.

د چاپيريال ساتنې او د چاپيريالي ککړتياوو د له منځه وړلو لپاره د ورځينو کړنو ترڅنګ په هغو بنسټيزو کړنو لاس پورې کولو ته اړتيا ده، کوم چې په يقيني ډول چاپيريال له اوسنيو ننګونو څخه راګرځولی او چاپيريال ساتنه دوامدار حالت بيولی شي، په همدې موخه د هېواد د کرنې کمزوري حالت ته په کتو د طبيعي سرچينو موثر استعمال او مديريت، د سرچينو لپاره د ستراتيژيکو پلانونو او پاليسيو جوړونه او پلي کيدنه او د سرچينو په برخه کې د بيارغونې د کړنو ترسره وی اول لومړيتوب، د عصري کرنې او مالدارۍ رايجول، د صنعت لپاره دخامو موادو برابرونه، له سرچينو څخه د ګټې اخيستنې په برخه کې د نوې ټکنالوژۍ استعمال، د توليد د کچې لوړونه، له سرچينو څخه د چاپيريالي، ټولنيزو، اقتصادي، کلتوري او سياسي موخو لاسته راوړنه دوهم لومړيتوب او د توليدو شويو محصولات د پروسس لپاره د فابريکو جوړونه، د صنعت وده او د توليد شويو توکو لپاره بازارموندنه دريم لومړيتوب ګڼلی شو.

په پوره باور سره ويلی شو، چې د هېواد سرچينو په مديريت سره، يوې معياري، پراخې او موثرې کرنې ته لاره هوارېږي، يوه ښه کرنه بيا کولی شي، چې هېواد اقتصادي غښتلتيا ته ورسوي، پرځان يې باسيا کړي، چاپيريال او د ايکو سيستم خپل د توازن په حالت کې وساتي او هېواد له اوسنيو شته مجبوريتونو څخه

وژغوري، لکه څرنګه چې مخکې مو ورته یادونه وکړه چې نباتات د هوا د ککړتیا په مخنیوي کې اساسي رول لوبوي، همدا نباتات دي چې با ارزښته ګازونه تولیدوي او مضره ګازونه جذبوي، چې په ډېریدو سره د هوا د ککړتیا مخنیوی تضمین کیږي او چاپیریال له هر ډول ننګوونو څخه ژغورلی شي.

د هوا ککړتیا په مستقیم او غیر مستقیم ډول دژوند چاپیریال د خطرونو په زیاتیدو کې مرسته کوي، له همدې امله روغتیا ته زیان رسوي، د اقلیمي بدلونونو د رامنځته کیدو سبب کیږي، د ځمکې کرې د ګرمیدو لامل ګرځي، د چاپیریال د ککړیدو او بدرنګیدو سبب کیږي، د ایکو سیستم توازن له منځه وړي او دژوند چاپیریال له بېلابېلو ننګوونو سره مخ کوي، د هوا له ککړتیا څخه رامنځته کیدونکي ذکر شوې بدې پایلې بیا له ځان سره نوې بدې پایلې زیږوي او چاپیریال تر ژوري اغېزې لاندې راولي.